دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي ياست چې پر خلكو گواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای مؤمنانو! په انصاف کلک ودریږئ او باید د الله لپاره گواهي ورکړئ که څه هم ستاسې، ستاسې د مور او پلار او یا خپلوانو پرخلاف وي، هغوی بډای وي یا مسکین، خکه چې الله له تاسی څخه پر هغوی ډېر مهربان دی. د انصاف په کار کې د خپل هوا منته مه کوئ که تاسې په گواهي کې ژبې واړوئ یا له ویلو ډډه وکړئ نو بېشکه چې الله پاک ستاسی له کړنی څخه ښه خبر دی.

(النساء: ۳۴ - ۳۵)

درس حدیث

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې یو سړي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله پیغمبره! زه چې کله نیکي یا بدي وکړم نو څرنګه پوه شم چې دا نیکي یا بدي ده؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: کله چې تا له خپلو گاونډیانو څخه واوریدل چې نیکي دې وکړه نو تا بېشکه نیکي کړی ده او چې ورڅخه دی واوریدل چې تا بدي کړی ده نو بېشکه بدي دی کړی ده. (ابن ماجه)

شهادت | دربیم کال، لومړی گڼه، پرله پسې ۱۰۰ گڼه | چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د وري ۳ مه | د۱۴۳۲ هـ ق د ربیع الثانی ۱۷ مه | د۲۰۱۱ م د مارچ ۲۳ مه

هغه سیمې چې افغان ځواکونه به یې د امنیت چارې په غاړه اخلي اعلان شوې

پنجشیر او بامیان ولایتونه، او د هرات ښار، د کابل شاوخوا سیمې او د لغمان د ځینو سیمو امنیتي چارو سپارل افغان ځواکونو ته اعلان شو

رسنی:
د افغانستان ولسمشر حامد کرزي هغه اووه سیمې اعلان کړې چې په لومړي پړاو کې به یې د امنیتي چارو مسوولیت افغان ځواکونه سږ کال د جولای میاشت کې په غاړه واخلي.

د افغانستان ولسمشر وویل چې د دې پروسې له بشپړېدو سره به د ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې درست بهرني حربي پوځیان له افغانستانه ووځي.

ولسمشر کرزي د ملي اردو د بوشمېرافسرانو د فراغت په مراسمو کې، چې د کابل د هوایي ډګر په یوه اډه کې جوړ شوي وو، وویل: "افغان ځواکونو ته د امنیتي چارو انتقال د افغانانو حق دی، موږ باید پر خپلو پښو ودرېږو او موږ غواړو چې د خپل هیواد ټولې چارې په خپل لاس کې واخلو."

کرزي همداراز وویل: "موږ غواړو چې دا

پاتې ٤ مخ

عذرخواهی امریکا از بدرفتاری نیروهایش در افغانستان

امریکا، رسانه ها:
وزارت دفاع امریکا با انتشار بیانیه ای از آنچه بدرفتاری نیروهایش با غیر نظامیان در افغانستان خوانده شد، عذر خواهی کرده است.

بیانیه پنتاگون بعد از آن منتشر شد که مجله آلمانی اشپیگل در شماره اخیرش عکسهایی از رفتار توهین آمیز نیروهای امریکایی با کشته شدگان در افغانستان، چاپ کرد.

در بیانیه پنتاگون، عکسهایی چاپ شده در مجله اشپیگل، نفرت انگیز خوانده و تاکید شده است که از این عکسها علیه متهمان این پرونده در دادگاه نظامی استفاده خواهد شد.

یکی از عکسهای چاپ شده در اشپیگل، دو سرباز مریکایی را نشان می دهد که بر جنازه یک غیر نظامی زانو زده اند. یکی از این سربازان در حالی نشان داده شده است که سر جنازه ای را در

بقیه در صفحه ۴

په افغانستان کې هله سوله راتلای شي چې امریکا خبرو ته تیاره شي "احمد رشید"

تاند:
د سیمې مشهور پاکستانی ژورنالیست او شناند احمد رشید، چې د طالبانو په اړه یې ډېرې لیکنې کړې، په افغانستان کې د سولې د راتګ په لارو چارو په یوه شننه کې کښلي: په افغانستان کې هغه وخت دوامداره سوله راتلای شي چې امریکا له طالبانو سره خبرو اترو ته غاړه کېښږدي او طالبان له القاعده شبکې څخه خپله لاره جلا کړي.

احمد رشید زیاتوي، امریکا او ناټو ته پکار ده چې پر یوې داسې ګډې اجنډا کار وکړي چې په سیمه کې جګړه پای ته ورسېږي او د طالبانو او کابل حکومت ترمنځ باور او ډاډ رامنځ ته شي.

احمد رشید په افغانستان کې د سولې لپاره د سیمې د هیوادونو د خپل منځي باور غوښتنه کوي او وایي: په دې نوې اجنډا کې د پاکستان ایران او هند او د دې تر څنګ د طالبانو او لویدیځ ترمنځ د خپلمنځي باور لپاره دې ګامونه پورته کړل شي.

پاتې ٤ مخ

تسریع پروسۀ صلح در لابلای تشدید جنگ

صفحه دوم

بیا هم د ولس وژنه!

دریم مخ

خلیلي:

که جنګ دوام ولري، دانتقال پروسه نه شي بریالی کېدای

رسنی :
په مزارشریف کې دحضرت علي کرم الله وجهه دروضې دجنډې دپورته کولو په مراسمو کې دولسمشر دویم مرستیال محمد کریم خلیلي وویل چې دوی دسولې دهرې هڅې ملاتړ کوي، خو هیڅوا ته اجازه نه ورکوي، چې له وسله والو مخالفینو سره سوله د تیرو لسو کلونو لاسته راوړنې قرباني او ازادی له منځه یوسي. خلیلي زیاته کړه چې افغان دولت له وسله والو مخالفینو سره د سولې پروسه پیل کړې، خو که له وسله والو مخالفینو سره جګړه همداسې دوام ولري، (نو له بهرنیو ځواکونو څخه دانتقال دمسولیت پروسه نه شي بریالی کېدای، داځکه چې انتقال پروسه

پاتې ٤ مخ

عبدالکریم خُرم د ولسمشر کرزي د دفتر رئیس ټاکل شوې دی

تاند:
تاند ته رسیدلي راپورونه وایي چې د اطلاعاتو او کلتور پخوانی وزیر ښاغلی عبدالکریم خُرم د ولسمشر حامد کرزي د دفتر د رئیس په توګه ټاکل شوی دی، دغه راز د ولسمشر د دفتر پخوانی رئیس عمر داودزی په اسلام آباد کې د افغان سفیر په توګه ټاکل شوی دی. ښاغلی داوودزی مخکې په تهران کې د افغانستان د سفیر په حیث کار کړی.

بلخوا د ولسمشر کرزي د دفتر یو بل پخوانی رئیس جاوید لودین د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي معین په توګه ټاکل شوې دی. نوموړی تر دې مخکې په ناروې او کاناډا کې د سفیر په توګه دنده ترسره کړې ده.

دغه راز ویل کیږي چې ډېر ژر به ښاغلی عبدالخالق فراهي د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې اداري د مشر په توګه وټاکل شي.

عبدالخالق فراهي په پېښور کې د افغانستان کونسل وو چې څه باندې دوه کاله د طالبانو او القاعده له لوري اختطاف شوی وو.

پوتین پر لیبیا د امریکا پوځي مداخله نامناسبه وبلله

رسنی:
د روسیې صدراعظم ولادیمیر پوتین د لیبیا پرضد د پوځي عمل په ارتباط د ملګرو ملتونو فیصله په منځینو پیړیو کې له صلیبي جګړو سره پرتله کړه.

پوتین وویل، د قذافي اوسنی رژیم له دیموکراسی لرې دی. خو ده دا هم وویل، چې پوځي مداخله هم مناسبه نه ده. هغه د ملګرو ملتونو فیصله نیمګړې وبلله.

پوتین دا هم وویل، چې د متحد ایالاتو

پاتې ٤ مخ

پادشاه بحرین

یک توطئه ۲۰ الی ۳۰ سالۀ آخوند های ایرانی را خنثی کردیم

گران افغانستان :
بر اساس گزارش های تازه، شیخ احمد بن عیسی آل خلیفه پادشاه بحرین تاکید کرد این کشور یک توطئه خارجی را "که به مدت ۲۰ الی ۳۰ سال علیه بحرین بکارگرفته شده" خنثی کرده است. شیخ حمد بن عیسی در دیدار با قوماندانان نیروی "سپرجزیره" که برای همکاری در برقراری امنیت وارد بحرین شده اند تاکید کرد: "اگر این توطئه در هر کدام از کشور های خلیجی پیروز می شد در همه این کشور ها منتشر می شد." او افزود: "اجرای این توطئه در بحرین یا هر کدام از کشورهای عضو شورای همکاری آسان نیست."

پادشاه بحرین گفت: "وجود نیروهای سپر جزیره برای شرکت در نظم داخلی نیست بلکه

بقیه در صفحه ۴

د نوي کال په مناسبت درې نیم زره بندیان خوشي شوي دي "غالب"

رسنی:
د افغانستان د عدلیې وزارت وایي، په روان لمریز کال کې، چې د پای شیبې یې دي، په بیلابیلو مناسبتونو له درې نیم زرو ډیر بندیان خوشي کړي او له پنځو زرو د ډېرو بندیانو د بند موده یې راکمه کړې ده.

د عدلیې وزیر حبیب الله غالب، چې د یکشنبې په ورځ یې د بندیانو په اړه د ولسمشر کرزي د فرمانونو د پلي کولو په اړه معلومات ورکول وویل، چې د دغو فرمانونو په پام کې ساتلو سره د شاوخوا پنځو زرو بندیانو د بند موده راکمه شوې.

د ښاغلي غالب په وینا اکثره دغه بندیان په هیواد کې سولې او پخلاینې د روان بهیر د پیاوړي کولو لپاره د ولسمشر کرزي د ځانګړو فرمانونو او د سولې د عالي شورا په سپارښتنو خوشي شوي دي.

"د عفوې او تخفیف فرمانونه چې په مذهبي او ملي ورځو کې د جمهوري ریاست د مقام له خوا صادر شوي دي، دوی د همدې عفوې او د تخفیف فرمانو لاندې راغلي او ور څخه استفاده یې کړې دي."

د عدلیې وزارت د معلوماتو له مخې په خوشې

پاتې ٤ مخ

PROPERTY OF ACKU

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

وکیلان د ازمېښت په ډګر کې

د پارلمان وکیلان د افغانستان د مسلمان ولس هغه غوره شوي وکیلان دي چې د هېواد حال او مستقبل د رغولو لپاره یې پارلمان ته استولي دي، وکیلانو هم پخپل نوبت د ټاکنو په کمپاین کې د ولس په وړاندې همدا لوظ او عهد کړی دی چې موږ به د خپل ولس وکالت په بشپړ ایمانداري او دیانت د ولس استازي د ازمېښت په ډګر کې سره ترسره کوو همداراز د پارلمان هر بریالي وکیل له ولس نه د باور د رأیو له ترلاسه کولو وروسته د پارلمان په تالار کې قرآن کریم په لاس د الله جل جلاله په وړاندې لوړه کړې چې له خپل دین، هېواد او ولس سره به هېڅ ډول خیانت نه کوي.

که وکیلان د خپل ځان او خپلو مسؤولیتونو په اړه لږ غوندې هم غور وکړي نو په ټول هېواد کې دوی یواځینی شخصیتونه دي چې د هېواد او ولس د سرنوشت جوړولو مسؤولیت ور په غاړه شوی دی، له همدې کبله ولس له خپلو وکیلانو څخه جدي هیله او انتظار لري چې دوی به خپل مسؤولیت ادا، او کړې وعدې په بشپړ ایمانداري ترسره کړي.

وکیلان دې په دې خبره هم فکر وکړي چې د افغانستان مسلمان ولس هغوی دې لپاره نه دي منتخب کړي چې په پارلمان کې دننه نسلي او ژبني تعصبونو ته لمنه ووهي، د افغانستان ملي یووالي او استحکام زیانمن کړي او خپل ټول وخت په ناندریو او لانجو کې تیر کړي.

د پارلماني وکیلانو مسؤولیت دومره ستر دی چې هېڅ ډول سستي، غفلت او خیانت پکې نشي ځائیدلې، هر وکیل به یوازې او یوازې د خپل ولس غوښتنې په نظر کې نیسي او هغه کارونه به ترسره کوي چې د هېواد او ولس ګټې پکې نغښتې وي. څرګنده خبره ده چې په فعلي شرایطو کې د افغانستان د مسلمان ولس لویه ګټه په دې کې ده چې د هېواد ټول وګړي د وروري او یووالي په صف کې ودرول شي، دښمنانو چې د افغانانو ترمنځ په مختلفو نومونو تربګنې او ناخوالې پیدا کړې دي د پارلمان په تالار کې د اتفاق او یووالي په توره له منځه یوسي، خو دا ټول کارونه هله کیدلې شي چې د هر څه دمخه وکیلان پخپله یو بل ته د ورورولي، همدردي، ایثار او مینې لاسونه ور کړي.

د هېواد د ټولو وګړو حقوقو ته په یوه سترګه وګوري او تحقق لپاره ګامونه اوچت کړي، ځکه چې د افغانستان ټولې پرګنې یو شان د افغانستان د خاورې بچیان دي او هر څوک پخپل پلرنی خاوره کې یو برابر حقوق لري.

د افغانستان بقآ، استحکام، ترقي او ښیرازي د افغانانو په یووالي او اتفاق پورې منحصره ده، یوازې یو موټی او متفق افغانان کولی شي چې د خپلې خاورې دفاع وکړي او د هېواد دښمنانو ته غاښ ماتوونکی ځواب ور کړي.

د افغانستان مسلمان ولس په پارلماني ټاکنو کې دې مقصد لپاره پارلمان ته وکیلان غوره کړي دی چې هغوی د نړۍ په سر د افغانانو سرونه اوچت، او دا ثابته کړي چې افغانان هم د نورو هېوادو د ولسونو په څېر ددې استعداد لري چې خپلې کشالې او کړاوونه په پارلمان کې حل او فصل کړي، په حقیقت کې د وکیلانو فهم، زکاوت او فراست د افغانستان د مسلمان ولس په فهم او فراست دلالت کوي، او ددوی ناپوهي او بې مسؤولیتي د افغانانو په ناپوهي او بې مسؤولیتي ګواهي ورکوي، نو ځکه نه ښایي وکیلان له خپل دروند مسؤولیت، او د ولس له خوا ورسپارل شوې دندو کې غفلت وکړي.

د ولس له لوری هغوی ته د وکالت ددروند بار ورسپارل ددې خبرې څرګند ثبوت دی چې هغوی د ولس سترګې او لارښوونکي دي، یو بې سترګو والا انسان هغه څوک خپل وکیل او لارښود نیسي چې هغه بینا او له کږلېچونو خبر وي او منزل مقصود ته د رسېدو لار ورته معلومه وي، نه دا چې له ګړنګه یې ګوزار کړي. ددې ترڅنګ ولس ته هم پکار دي چې د خپلو وکیلانو کړنې تر کلکې څارنې لاندې ونیسي.

وکالت، د خپل رب، ولس، عقیدې، خاورې او ایمان په وړاندې ستر امانت دی، د امانت ضایع کول د خپل دین، خاورې او ایمان ضایع کول دي. د یو متعهد مسلمان په توګه د هر وکیل دا فرض دی چې له خپل رب او ولس سره په کړی قسم او تعهد کلک ودرېږي، او داسې هېڅ ګام اوچت نه کړی چې ددین، ولس او هېواد په تاوان وي، او د هېوادوالو د خپګان او پریشانی باعث وګرځي او کړاوونه ورته وخېږوي.

الحمدلله زموږ د اسلام په سپېڅلي دین کې هر څه روښانه دي د ژوند ټېرولو او د ورځنیو مسایلو د حلولو لپاره واضح احکام موجود دي، اول خو به د الله تعالی د سپېڅلی قانون په شتون کې کوم مشکل سر نه اوچتوي او که بالفرض اوچت هم کړي نو هغه به ددې سبب نه جوړېږي چې موږ ترېنه ونشو وتلې، ځکه چې د اسلام سپېڅلی دین داسې یو بشپړ قانون دی چې ټول انساني مشکل پکې حل شوېدي. ښه به دا وي چې په پارلمان کې ناست وکیلان خپل ایماني او ملي مسؤولیت په صحیح ډول وپېژني. خپل ولس او خاوری ته همغومره اهمیت ورکړي څومره چې خپل ځان، اولاد او شخصي مال ته ور کوي، همغومره مینه دې د خپل ولس له بچیانو او ګټو سره وکړی څومره چې له خپلو زامنو او ګټو سره کوي.

یوازې د همداسې قوي احساس او قوي مسؤولیت پېژندنې له لارې کېدلې شي چې په افغانستان کې د پردي پالو ګوډاګیانو له خوا ایجاد شویو تعصبونو سیاستونو مخه په مؤثر ډول ونیول شي او افغانان د یو با ثباته او پرامنه هېواد خاوندان وګرځي.

تسریع پروسهٔ صلح در لابلای تشدید جنگ

اعزامی

شورای عالی صلح در حالی به فعالیت های اصلاحی خود سرعت بخشیده که از یکسو موجی از عملیات های انتحار، انفجار و بمباردمان هوایی طرفین درگیر در هفته های اخیر شدت گرفته و جمع از هموطنان ما را به خاک و خون کشانده و از سوی دیگر زمزمه های تأسیس پایگاه های دایمی نظامی ایالات متحدهٔ امریکا در کشور ما، به گوش میرسد.

صلح و جنگ دو پدیدهٔ متضاد و آشتی ناپذیر اند و هر دوی آنها در یک زمان و مکان با همدیگر جمع نمی شوند، ولی در کشور ما که در جریان سه دهه بحران، خیلی از ناممکن های ممکن و خیلی از ممکن ها ناممکن گردیده، این بار چنان احساس میگردد که تسریع پروسهٔ صلح و تشدید جنگ، همزمان پیش میروند. به روایت رسانه ها، شورای عالی صلح پس از آنکه هیأتش چندی قبل از پاکستان بر گشت، به کار ایجاد شوراها محلی صلح در بسیاری از ولایت ها و ولسوالی ها اهتمام ورزید که بدون شک این اقدام مورد استقبال مردم نیز قرار گرفته است، چه موجودیت همین شوراها به عنوان پشتوانهٔ قوی مردمی، شورای عالی صلح را در رسیدن به هدفش یاری میکند. شورای عالی صلح در کنار اهتمام و تأسیس شوراهای محلی و تسوید برنامهٔ کاری برای اعضای شورا اکتفا ننموده و اخیراً برای برقراری تماس با مخالفین مسلح دولت، یک هیئت خود را باز هم تحت رهبری استاد برهان الدین ربانی رئیس شورای عالی صلح به ترکیه و عربستان فرستاد تا در کار تشکیل کمیسیون مشترک اصلاحی مرکب از افراد مخالفین مسلح و اعضای شورای عالی صلح پیشرفتی صورت بگیرد.

در جریان مسافرت هیئت شورای عالی صلح به پاکستان، هیئت در نتیجه مشوره با مقامات پاکستان، احزاب سیاسی و برخی از

جناح های مخالف دولت روی تشکیل کمیسیون مشترک تفاهم کرده بودند و دولت پاکستان در تشکیل همچو کمیسیونی وعده همکاری داده بود، اما اینکه اعضای این کمیسیون کی ها باشند، به چه تعداد و در کجا و روی کدام اجندا با همدیگر صحبت نمایند؟ به فیصله قطعی نرسیده بودند. یک مشکل عمده مخالفین مسلح دولت اینست که سران آنها به نسبت درج بودن اسمای شان در لست سیاه ملل متحد، تحت تعقیب اند و لهذا دارای آدرس مشخص و روشنی نیستند تا مصلحین به آسانی دروازه آنها را دق الباب کنند، اگر چه هیئت شورای عالی صلح در پاکستان با یک هیئت حزب اسلامی به رهبری انجنیر گلبدین حکمتیار دیدار و گفتگو کرده بود و از قول رسانه ها شایعاتی هم به گوش میرسد که هیئت دیگر این حزب بنابر دعوت شورای عالی صلح بزودی به کابل می آید، ولی زمینهٔ ملاقات هیأت با سران بلندپایه طالبان در پاکستان مساعد نگردید و یا آنها خود نخواستند که در آنجا با هیئت شورای عالی صلح ببینند.

یگانه راه حل قضیه افغانستان از طریق مذاکره و گفتگو می باشد و به خاطر اینکه مخالفین مسلح صاحب آدرس مشخص شوند و مصلحین به آسانی بتوانند با آنها دید و وادید نمایند، در مذاکرات سه جانبه روسای جمهور افغانستان، پاکستان و ترکیه در ماه جنوری گذشته در ترکیه بحث گردید و قرار بدان شد که برای طالبان در ترکیه دفتری برای تماس در نظر گرفته شود تا از آن طریق باب گفتگو و مذاکره برای مصلحین گشوده شود. طالبان علاوه از گشایش دفتر در ترکیه، خواهان حذف نامهای رهبران خویش از لست سیاه ملل متحد و رهایی محبوسین خویش از زندان های گوانتانامو و بگرام نیز گردیدند. از قراین چنان پیداست که بخاطر آغاز مذاکرات صلح، به این خواسته های طالبان تا حدی لبیک گفته شده و دولت ترکیه نیز آمادگی خود را برای گشایش دفتر طالبان نشان داده است و علاوه از حذف نام های یکتعداد از سران طالبان که قبلاً صورت گرفته بود، نام های تعداد دیگر آنها که در آینده به نمایندگی از طالبان، در کمیسیون مشترک کار میکنند، زیر غور است که حذف گردد و همچنان برای رهایی طالبان زندانی و احوال گیری از وضعیت صحی و روانی آنها قرار است، هیئتی از شورای عالی صلح، بزودی عازم گوانتانامو شود و در مورد راه ها و امکانات رهایی آنها با مقامات امریکایی مذاکره نمایند.

سفر اخیر هیأت شورای عالی صلح به جده عربستان سعودی، غرض مذاکره با گروه تماس کنفرانس کشورهای اسلامی، نشانهٔ دیگری از علاقمندی جامعه بین المللی برای حل قضیه افغانستان از طریق مذاکره و گفتگو می باشد.

روزنامه های چاپ امریکا نیز به این موضوع پرداخته و از قول منابع مربوط به شورای عالی صلح می نگارند که قرار است یک هیئت شورای عالی صلح به همکاری ایالات متحده امریکا به گوانتانامو سفر نماید، این گفته زمانی در روزنامهٔ دیلی تیلگراف نشر می شود که وزیر خارجه امریکا اظهار نموده که امریکا اخیراً فشارهای دپلوماتیک خود را سرعت بخشیده تا جنگ افغانستان را خاتمه بدهد. روزنامه از زندانی بودن ۲۰ نفر طالبان عالیرتبه در زندان های تحت نظارت امریکا خبر داده که بدون شک رهایی این افراد باعث دلگرمی رفقای جنگی آنها در کادر رهبری طالبان شده و تشویق می شوند تا هر چه زودتر رو در روی هیئت شورای عالی صلح بر سر میز مذاکره حضور یابند. در جمله رهبران زندانی طالبان از ملا خیرالله خیرخواه نام برده شده که با رهایی و شمول او در تیم کمیسیون اصلاحی مشترک، تاثیر به سزایی در پیشرفت پروسهٔ صلح خواهد داشت. روزنامه دیلی تیلگراف گزارش داد که شورای عالی صلح رسماً خواهان رهایی ملا خیرالله خیرخواه وزیر اسبق طالبان از حبس گردیده و برای تسریع این امر از مقامات امریکایی تقاضا نموده تا زمینه و اسباب سفر یک هیئت شورای صلح را به گوانتانامو مساعد سازد. سخنگوی طالبان نیز از خبر رهایی احتمالی طالبان محبوس، از زندان گوانتانامو استقبال نموده است.

تسریع فعالیت های اصلاحی شورای عالی صلح در زمانی صورت میگیرد که از یک سو شایعات تأسیس پایگاه های نظامی امریکا در افغانستان سر زبانها است و از سوی دیگر جنگجویان طالبان با تشدید عملیات های انفجار و انتحار در روزهای اخیر اسباب پریشانی و ناراحتی مردم را فراهم کرده و متقابلاً نیروهای هوایی ائتلاف کما فی السابق به بهانهٔ بمباردمان مواضع طالبان، جمعی از هموطنان ملکی غیر محارب ما را شهید و زخمی نموده و مایهٔ نگرانی جدی دولت و مردم گردیده است.

هر چند بعضی از صاحب نظران امور نظامی، تأسیس پایگاه های نظامی دایمی امریکا را در افغانستان بخاطر حفظ ثبات سیاسی، تأمین نظم و امنیت و جلوگیری از دست درازی های همسایگان طماع افغانستان، ضروری پنداشته اند، ولی این مسأله از جایب مقامات امریکا در حد یک رایزنی و استمزاج مطرح گردیده و هنوز معلوم نیست که آیا نهادهای دولتی افغانستان و ایالات متحدهٔ امریکا از مجاری رسمی به این موضوع صحه می گذارند یا خیر؟ به هر حال اگر این مسأله جامه عمل بپوشد، بدون شک به کار پروسهٔ صلح اثر منفی وارد میکند و شاید هم یک علت تشدید حملات دو طرف جنگ در این اواخر، همین مسأله بوده باشد.

رویهمرفته باید انتظار کشید و دیده شود که سفر هیئت شورای عالی صلح به گوانتانامو فراهم میشود و یا خیر؟ و احیاناً اگر این مسافرت صورت بگیرد، آیا منجر به رهایی زندانیان طالب از گوانتانامو میگردد یا خیر؟ و آیا تسریع فعالیت های دیپلوماتیک، اثری در تخفیف جنگ و برقراری متارکه فیما بین طرفین در گیر می

گذارد تا کمیسیون مشترک، گفتگوهای خود را در یک نقطهٔ سوم به وساطت خارجی ها آغاز نماید؟

بیا هم د ولس وژنه!

محمد حسن

په دې وروستیو کې زموږ په در په در او مظلوم هېواد کې دملکي وګړیو د وژنو ګراف ډېر لوړ ختلی دی. وروستیو پېښو یو ځل بیا وښوده چې نه هم دسوله ساتو په نوم سوله له منځه وړونکي ځواکونه او نه هم دطالبانو ډله دملکي وګړیو ژوند ته پام کوي او آن داسې موارد ولیدل شول چې دا دواړه اړخونه قصداً ملکي وګړي وژني دبهرنیو ځواکونو له خوا د کونړ دغازي اباد ډله ییزه وژنه چې په ترڅ کې یې شاوخوا اویا تنه ملکی وګړي ووژل شول اوبیا دپیچ په دره کې پر تنکیو کوچنیانو بمباري او له لسو تنو دډېرو په شهادت رسول، همداراز د طالبانو له خوا په جلال اباد کې پر کابل بانک برید چې په ډېره بې رحمانه توګه یې په کې مېرمنې او کوچنیان هم ووژل ددې بېرحمی او غیر انساني چلند ښې بېلګې دي.

که څه هم چې بهرني ځواکونه دافغان ولس دښمنان دي اونامسلمانه دي خوبیا هم په کونړ کې د کوچنیانو په وژنه یې بخښنه وغوښته.

خو داسلام دعوه دارو خو داکار هم ونه کړ. او په ننګرهار کې دملکي وګړیو په وژنه یې خوښي وښوده.

دهېواد روان سیاسي او امنیتي حالات ښیي چې له بده مرغه دلته امنیتي وضعه دهرې ورځې په تېرېدو سره مخ پر خرابېدو ده، دجګړو لمن لا پراخېږي، هره ورځ د افغانانو وینې تویېږي او هېلې یې په نهیلی بدلېږي.

دسپتمبر دیوولسمې له پېښو وروسته چې دنړیوالو پام یو ځل بیا افغانستان ته راواوښت او نړی هېر کړی او په سرو لمبو کې پروت هېواد مویو ځل بیا نړیوالو ته ورپه یاد او بیا سوله ساتو په نوم دشاوخوا یو نیم لک نړیوالو زورورو مېلمنو کوربه شو نو دجګړو اونیستی ځپلیو، دربه درو افغانانو په رنګ کې یو څه سرخي پیدا او په وچو رګونو کې یې دامید وینه وځغلېده. په سلګونو زره مهاجر هېوادوال بېرته خپل کور او ټاټوبي ته راغلل، دولت او خلکو دبیارغاونې څه ناڅه کارونه پیل کړل او دا هیله پیدا شوه چې که خیر وو شتمن امریکایي، اروپایي او اسیایي هېوادونه به زموږ دکنډوکپر هېواد په بیارغاونه او آبادی کې ډېره مرسته وکړي. که څه هم متحده ایالاتو، برتانیې، جرمني جاپان، هند، ځینو اسلامي او ګاونډیو هېوادونو تر یوه حده مرستې وکړې خو یو دا چې دامرستې ډېرې کمې وې بل داچې پر ځای هم ونه لګول شوې. همدا راز دبیارغاونې دکارونو، اداري اصلاحاتو نشتوالي او درشوت او اختلاس دډېربښت ترڅنګ ځینې نور فاکتونه هم شته چې د ملت او دولت او دافغانانو او دلته دمیشتو سوله ساتو په نوم راغلیو بهرنیو ځواکونو ترمنځ فاصلې راپیدا کوي خو تر ټولو مهم فکتور چې ولس له دولت او دلته راغلیو بهرنیو ځواکونو څخه خفه او لېرې کوي هغه دنظامي عملیاتو پر وخت د بې ګناه ملکي خلکو وژنه او دافغانانو ددود او دستور پر خلاف دهغوی د کورونو پر حریم بې اجازې ورختل او دښځینه و تالاشي کول دي او له بده مرغه چې په تېرو پنځو کلونو کې په لسګونوځله ناټو او امریکایي ځواکونه بې ګناه افغانان په نښه کوي، په کورونو یې ورخېژي، دروازې یې ورته ماتوي، له ملي پولیسو او ملي اردوپرته یې کورونه ان دښځینه و بکسونه او جامې هم تالاشي کوي.

دادپښتنو خوی دی چې سر ورکول منې خودا نه شي زغملی چې څوک دې دهغوی ناموس ته لاس وروړل خو پر بړده ان دهغې دتن جامې ته هم وګوري. خو نن له بده مرغه...

داسمه ده چې دولت او ائتلافي ځواکونه به ځان مجبور بولي چې په هر ډول وي خپل مخالفین وځپي خو دا ځپل باید داسې نه وي چې دافغانانو دعزت او ناموس په بیه ترسره شي.

په دې اړه باید هم ددې نظام او دولت مخالفین او هم یې مقابله خوا ډېر کوښښ وکړي چې لومړی خو جګړه ونه کړي ځکه چې جګړه له تباهۍ پرته بله ډالۍ نه لري او که یې حتمي بولي نوهځه دې وکړي چې هدف یې یوازې نظامیان وي.

داهم جوته خبره ده چې ناټو او امریکایي ځواکونه ډېر عملیات دلاس ته ورغلیوراپورونو پر بنسټ کوي خو دوی باید پوه شي چې ددوی لاس ته ورغلي ټول راپورونه سې او دقیق نه دي، دلته افغانان په خانګړي ډول پښتانه قومونه ډېر خپلمنځي

اختلافات او دښمنی لري او داسې ډېر شوي چې دشخصي دښمنیو او کورنیو اختلافونو له لامله ځینو خلکو امریکایي او یا ائتلافي ځواکونو ته یو څوک یا کوم کلی، القاعده او یا طالب معرفي کړی وي او دوی هم بې له دې چې ریښتوني او سمه پلټنه وکړي همداخلک او یا دا کلي په نښه کړی، بمبار یې پرې کړی، وژلي او سوځولي یې دي خو وروسته جوته شوې ده چې دا هر څه دروغ دي.

که څه هم دولت او امریکایي ځواکونه خپل داډول رانده عملیات تل داسې توجیه کوي چې ګویا په دې کلیو یا کورونو کې یې مخالفین پټ شوي وي خو دا توجیه ځکه معقوله نه ده چې په یوځای کې دطالبانو یاددولت دنورو مخالفینو دپټېدلو په ګومان، په سلګونو بې ګناه کلیوال، ښځې او ماشومان وژل او دویر په ټغر دسلګونو کورنیو کېنول لوی ظلم او ستم دی.

دا کار که له یوې خوا د ولس په زیان دی، له بلې خوا دولت، ناټو او امریکایي ځواکونو ته هم نه جبیره کېدونکی زیان رسوي، لکه وړاندې مو چې وویل ولس له دولت او بهرنیو ځواکونو څخه زړه تورن او خفه کوي، ان ددولت او دې ځواکونو پر ضد پاڅون ته یې هڅوي ، ددولت پر ضد د مخالفینو تبلیغاتو ته لازیاته زمینه برابروي او که دا سلسله همداسې روانه وساتل شي ښایي افغانان یو ځل بیا وطن پرېښودلو او ګاونډیو هېوادونو ته مهاجرت ته اړ شي او له هغو ځایونو څخه به بیا که دوی وغواړي او که ونه غواړي ترستوني په وسلو پټ افغانستان ته رالېږل کېږي او د ۱۳۵۸ هـ لمریز کال تاریخ به بیا تکرارېږي. نو ښه داده چې افغان دولت، امریکایي او ائتلافي ځواکونه او طالبان ټول په خپلو عملیاتو کې له ډېر دقت څخه کار واخلي ملکي او بې ګناه خلک ونه وژني او دهر چا په راپور بې پلټنې باور ونه کړي.

افغانان هم باید خپل شخصي دښمنی او خصومتونه په داسې ځایونو کې ونه پالي. دا ډېر ناروا کار دی چې خپل شخصي دښمن چې نه طالب او نه القاعده دی ، او نه ملي ګټو ته تاوان رسوي، ائتلافي او امریکایي ځواکونو ته القاعده او یا مخالف معرفي شي او تر څنګ یې نور بې ګناه هېوادوال هم ووژل شي. دوی باید خپلې شخصي ګټې پر ملي او بین المللي ګټو وړاندې ونه بولي.

همداراز ددولت مخالفین هم باید له دولت سره دمرستې په تور هربې ګناه تن ونه وژني، لکه په ځینو مواردو کې چې ولیدل شول چې طالبانو ته منسوبو ځینو وسله والو ښوونکي او ددې هېواد دراتلونکي جوړوونکي)زده کوونکي(هم ووژل.

لکه څنګه چې دبېګناه خلکو وژنه

پاتې ۴ مخ

د اسلامي نهضت ځوانان

ترتیب کوونکی صابره واحدیار

ګرانو ځوانانو !

هر فکر او ارمان بغیر له شکه هغه وخت د عمل جامې اغوندي چې ایمان یې قوي شي او د ایمان د تحقق لپاره باید پوره اخلاص او شوق موجود وي او د قرباني، فداکارۍ لپاره استعداد، چمتوالی او عمل وي چې د فکر او ارمان ته د رسېدو په لار کې رامینځ ته کېږي.

تقریباً څلور ګوني عناصر چې عبارت دی له: ایمان، اخلاص، عمل او جدیت نه، چې د ځوانانو د مهمو ځانګړنو څخه شمېرل کېږي ځکه چې د یو قوي ایمان اساس قوي شعور او بالاخره د عمل اساس متین عزم تشکیلوي او دغه ټول عناصر یوازې په ځوانانو کې موجود وي.

له دې امله ځوانان څه په تېرو وختونو او څه په حال کې د یوې بنیادي ستنی او د ملتونو د یووالي حیثیت درلودلی. او د ولسونو او ملیتونو د قوت او پیاوړتوب سبب ګڼل کېږي. او همدغه ځوانان دی چې همیش یې د ملتونو د فکر او ذهنیت واګې په لاس اخیستې.

قرآنکریم دا رنګه فرمایي: ترجمه: (په تحقیق سره دوی څو ځوانان وو چې ایمان یې راوړ په رب خپل او ور مو کړ دوی ته هدایت).

پدې وجه د ځوانانو وجیبې او مسؤولیتونه ډېر زیات او درانه دی او له دې امله د ملت حقونه په ځوانانو تر نورو څو برابره زیات دي. بناءً دا پر ځوانانو ده چې عمیق فکر او زیات عمل وکړی او د خپل موقف په تعین او څرګندتوب سره چې د اسلامي امت د ژغورلو په حق کې یې لري د خپل ځوان فکر د خزانونه په استفادې یې ادا کړی.

ځینی هغه ځوانان چې په قوي او پرمختللو ملتونو کې مینځ ته راغلي نمو او وده کوي نسبت د خپل ملت په اړه خپل ځان ته ډېره توجه کوي او په خپل آرام خوب او آرام خیال په عیش او په ښه وخت تېرولو مصروف دی. او ځینی ځوانان په زحمت کښو او هڅه کوونکو ملتونو کې مینځ ته راغلی وده او نمو کوي کله چې هم پردی او بېګانه پر ګټې او قوتونه پر هغوی مسلط شوې بری ملت په اموراتو او راتلونکی باندې په زبردستی حکم کوي. همدغه ملت هم چپ ناست وي ولې د جهاد د لارې په خپلولو او د خپل سلب کړای شوې حق او د غصب کړای شوو زیرمو او آزادی دلاسته راوړلو په موخه او د خپلو سپېڅلو عالي ارزښتونو د بقا لپاره مبارزه کوي، پدې حالت کې د مؤمنو او دین پالو ځوانانو هغه اساسي وجیبه چې په دې ملت پورې تړلې تر څو خپلو خلکو او ملت ته خپله توجه او هڅه واړوی، پدې ترتیب نه یوازې دا چې دا ځوانان په سملاسی کامیابی او فلاح سره د فتح او نصرت په میدانونو کې برلاسی مومی بلکه راتلونکی خیر یعنی ثواب او د آخرت بدله یې هم په نصیب کېږي. او د خپل ښوونکی او مهربانه رب څخه غواړم کوم خطرات او دسایس چې د اسلامي امت په وړاندې موجود او د هر قسم یرغلونو (دیني، اخلاقي، فکري، سیاسي او کلتوري) په وړاندې چې زمونږ د جهاد او شهداوو د ارمانونو او زمونږ د پسرلی نیالیو او راتلونکی نسل په وړاندې متوجه دی ته یې وساتی او خپل ملت مو دا رنګه بحرانونو او چالشونو کې کامیاب کړی.

(واخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمین)

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(نهمه برخه)

س۱۴۲: د امویانو په زمانه کې چا لومړي د مصر ولایت په غاړه واخست؟

ځ: عمرو د عاص زوي دا ۲۱هـ کال د امویانو د لومړي خلیفه معاویه زمانه کې و.

س۱۴۳: د عباسیانو په زمانه کې د مصر لومړی والي څوک و؟

ځ: صالح د علي زوي د عباسیانو د لومړي خلیفه تره.

س۱۴۴: چا د لومړي ځل لپاره د اصول حدیث علم جوړ کړ؟

ځ: امام شافعي رحمة الله علیه؟

س۱۴۵: چا د لومړي ځل لپاره د (اقلیدس) هغه زړه نظریه چې وایي: د شیانو د لیدلو په وخت د ستر ګو وړانګې پر هغه پرې وزي رد کړه؟

ځ: د طبیعي او ریاضي علومو مسلمان مشهور عالم حسن د هیثم زوي لومړی هغه سړی و چې دا نظریه یې رد کړه.

س۱۴۶: په هند کې د اسلامي تحریک لومړی مؤسس څوک و؟

ځ: ابو الاعلی مودودي رحمة الله علیه.

س۱۴۷: په عربي مغرب کې د موحدینو د دولت لومړی مشر څوک و؟

ځ: په مغرب عربی کې د موحدینو د دولت لومړی مشر د علي رضي الله عنه د ذریت نه محمد د تومرت زوی و.

س۱۴۹: چا د لومړي ځل لپاره بدنه (هغه اوښه یا غوا چې په مکه کې د قرباني په موخه حلالیږي) ډالی کړه؟

ځ: الیاس د مضر زوي.

س ۱۵۰: چا د کعبې هغه بنیاد چې د طوفان په صورت کې له منځه تللی و د لومړي ځل لپاره کېښود؟

ځ: الیاس د مضر زوي.

س ۱۵۱: د نوح د طوفان نه وروسته چې بیت الله په کې له منځه ولاړ چا د لومړي ځل لپاره د ابراهیم مقام جوړ کړ؟

ځ: الیاس د مضر زوي.

س ۱۵۲: ابو ذر رضي الله عنه د پیغمبر علیه السلام نه په زمکه کې د لومړي مسجد پوښتنه وکړه.

پیغمبر علیه السلام وفرمایل: مسجد حرام.

ابو ذر و پوښتل وروسته کوم و؟

پیغمبر علیه السلام و فرمایل: مسجد اقصا.

ابو ذر و پوښتل: د دواړو ترمنځ څومره موده فاصله وه؟

پیغمبر علیه السلام و فرمایل څلویښت کاله. وروسته ټوله زمکه د ستا لپاره مسجد و ګرځیدله چیرته چې د لمانځه وخت راورسید همغلته لمونځ وکړه. الله پاک فرمایي: [إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ] آل عمران: ۹۶آیت.

س۱۵۳: چا د لومړي ځل لپاره د جمعی په لمونځ کې اول اذان اضافه کړ؟

ځ: عثمان د عفان زوي رضی الله عنه.

س۱۵۴: څه شی الله پاک لومړی پیدا کړی دی؟

ځ: سیوطي رحمة الله علیه دهغه حدیث په استناد چې په احمد او ترمذي کې عباده بن صامت روایت کړی ته په استناد وایي: لومړی شی چې الله پیدا کړی قلم دی، بیا ورته الله امر وکړ چې ټول هغه شیان چې موجود دي د قیامت تر ورځې پوری ولیکه.

س۱۵۵: قلم لومړی څه شی لیکلی؟

ځ: سیوطي رحمة الله علیه د هغه حدیث په استناد چې سعید بن منصور په سننو، ابن ابي حاتم په تفسیر او ابو نعیم په حلیه کې د ابي زرعه چې د عمر بن جریر نه روایت کړی وایي: لومړی شی چې قلم ولیکه هغه دا و: زه توبه قبلونکی یم چا چې توبه وکړه زه د هغه توبه قبلوم.

س۱۵۶: په خلکو کې څوک لومړی پیدا شوې؟

ځ: آدم علیه السلام.

س۱۵۷: کله چې الله پاک ملایکو ته امر وکړ چې آدم علیه السلام ته سجده وکړئ نو کومي ملائکی لومړی سجده وکړه؟

ځ: اسرافیل علیه السلام.

س۱۵۸: د آدم علیه السلام نه وروسته لومړی نبي څوک و؟

ادریس علیه السلام.

س۱۵۹: د بني اسرایلو نه لومړی نبي څوک و؟

ځ: موسی علیه السلام.

س ۱۶۰: په نبیانو کې د خلقت په لحاظ د چا خلقت لومړی شوی دی؟

ځ: د محمد صلی الله علیه وسلم.

س ۱۶۱: چا د لومړی ځل لپاره خپل نوکان غوڅ کړل، بریتونه یې کم کړل او ویښتان یې کل کړل؟

ځ: ابراهیم علیه السلام.

س ۱۶۲: چا د لومړي ځل لپاره په اوبو استنجا وکړه؟

ځ: عویمر دساعده زوي، ویل کېږي چې داهغه شخص وچې دا آیت یې په هکله نازل شو [رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ] توبه آیت ۱۰۸.

س ۱۶۳: چا لومړی د پیغمبر علیه السلام نه واوریدل چې وېي فرمایل: هیڅوک هم ستاسي نه باید قبلې ته مخامخ بولي و نه کړي او چا دا خبره لومړی نورو ته واوروله؟

ځ: عبد الله بن حارث زبیدي.

س ۱۶۴: د پیغمبر علیه السلام لومړی لمونځ کوم و؟

ځ: د ماسپښین لمونځ.

(نور بیا)

شهادت اوونیزه
خپرووونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر عبدالجلیل محمد خلیل
د اړیکي شمېره ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
دیزاین خواجه وحیدالله
د کمپلاوزي تر څارنې لاندې
ادرس د حزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه
ایمیل
shahadatnews_kabul@yahoo.com

بیا هم د ولس وژنه...

امریکایانو او دولت ته تاوان لري همداراز او آن له دوی ډېر طالبانو ته هم تاوان کوي. ځکه په دې خوټول پوهېږي چې امریکایان پردي خلک دي. دین، عقیده، هېواد، دود او دستور، کولتور هر څه یې له موږ بېل دي. نه ترحم پېژني او نه عاطفه لري او طالبان خوځانونه افغانان او ددې مدافعان بولي او. له دې ولس او خلکو سره دمخامخ کېدو هیله لري نو دوی، افغان ملي اردو او ملي پولیس باید ترامریکایانو ډېر محتاط واوسي.

دوی هم باید بې له پلټنې دجاسوس په نوم هرڅوک ونه وژني.

داچې تېره اونۍ طالبانو په ننګرهار کې پر یوې ملکي ودانۍ دبرید په ترځ کې لسګونه بې ګناه افغانان چې کوچنیان او مېرمنې هم په کې وو ووژل آیا داکار له اسلام سره سمون خوري؟

آیا اسلام دا اجازه ور کړېده؟

آیا الله ج ته دیو بې ګناه مسلمان وینه له ټولو اسمانونو اوځمکې درنه او محترمه نه ده.

دوی که رښتیا طالبان وي نو طالب او ملا ته ترهرچا وړاندې دا معلومه ده ترټولو ستره ګناه دبې ګناه انسان وژل دي؟

دوی خو دافغانانو تر منځ له شخصي کینې او دښمنیو څخه تر هغو نورو ډېر خبر دي نو باید چې ډېر احتیاط وکړي او په لوی لاس ولس دځان پروړاندې ونه دروي.

په دې خو هم دولتي چارواکي او هم طالبان ښه پوهېږي چې دبېګناه مسلمان وژنه ډېره ستره ګناه ده او له شرک وروسته ترټولو لوی جرم دی او الله ج دخپل مخلوق دوینې پوښتنه کوي. دوی باید په دې ځان پوه کړي چې د محشر په ورځ چې ترې ددې بېګناه، معصومو، کوچنیو، پتمنو مېرمنو اوسپین ږیرو چې الله یې دږیرې له سپین تار څخه حیا کوي رب او پیداکوونکی له دوی وپوښتي چې "بای ذنب قتلت" یعنې (په کومه ګنا وژل شویدئ؟) نودوی به څه خواب ورکړي؟. آیا همدا خواب چې (دایوه جنګي اړتیاوه) !؟

هغه سیمې چې افغان ځواکونه...

خونړۍ جګړه پای ته ورسېږي، موږ باید په هره وسیله چې وي خپل هیواد د سولې لور ته بوځو."

کرزي وویل چې بامیان او پنجشېر ارام ولایتونه، او ددې ترڅنګ د یو شمېر ولایتونو مرکزي نقطې لکه د هرات ښار، د کابل د شاوخوا سیمو او د لغمان ولایت د ځینو سیمو د امنیتي چارو مسوولیت به افغان ځواکونه په غاړه واخلي.

همداراز په شمال کې د مزارشریف ښار او په جنوب کې د هلمند د مرکز لشکرګاه امنیتي چارې به هم د روان کال په دوبي کې افغان امنیتي ځواکونو ته وسپارل شي.

افغان امنیتي ځواکونو ته د افغانستان د ټولې خاورې د امنیتي چارو پر تدریجي سپارنې تېر کال د پرتګال په لیزبون کې د ناټو په سرمشریزه کې سلا شوې وه.

عذرخواهی امریکا از بدرفتاری ...

حرکتی تمسخر آمیز بالا گرفته تا در عکس بیافتد.

این عکسها جزیی از هزاران تصویر و نوار ویدیوئی هستند که در نتیجه تحقیق، به دست آمده اند. این تحقیق بعد از طرح ادعاهایی مبنی بر اینکه سربازان یک واحد نیروهای مریکایی در افغانستان، غیر نظامیان را برای سرگرمی خود هدف تیراندازی قرار داده اند، انجام شد.

مقام های امریکایی می گویند سربازی که این عمل را انجام داده، شناسایی شده است. نام این سرباز جرمی مورلاک است و یکی از پنج سربازی است که اوایل امسال به کشتن سه غیر نظامی افغان متهم شده بودند. انتظار می رود محاکمه مورلاک چهارشنبه این هفته از سر گرفته شود.

سفارت امریکا در برلین نیز با انتشار اعلامیه ای این عمل سربازان امریکایی در افغانستان را منزجر کننده و مغایر معیارها و ارزشهای ارتش آمریکا خوانده است.

در همین حال، یک عضو شورای امنیت ملی افغانستان که نخواست نامش فاش شود به بی بی سی گفت موضع دولت افغانستان در این مورد بسیار روشن است و آن اینکه کشتار غیر نظامیان افغان باید متوقف شود.

این مقام افغان تاکید کرد که کشتن افراد غیر نظامی برای رئیس جمهور کرزی و مردم افغانستان اصلا قابل قبول نیست.

در سال ۲۰۱۰ میلادی بیش از ۲ هزار و ۷۰۰ غیرنظامی در افغانستان کشته شدند که بر اساس آمار سازمان ملل متحد ۱۵ فیصد افزایش را نسبت به سال ۲۰۰۹ نشان می دهد. گزارش سازمان ملل همچنین نشان می دهد که مسئول ۷۵ فیصد کشتار غیر نظامیان، مخالفین دولت بوده اند و ۲۵ فیصد دیگر توسط نیروهای خارجی مستقر در افغانستان و نیروهای ارتش کشور کشته شده اند.

اخیرا جنرال دیوید پتروئیس،قومندان عمومی نیروهای امریکا و ناتو در افغانستان نیز از کشته شدن دست کم ۹ کودک بر اثر بمباران جنگنده های ناتو در شرق افغانستان رسما از حامد کرزی عذر خواهی کرد اما آقای کرزی گفت این عذر خواهی کافی نیست و چنین اقداماتی باید فورا متوقف شوند.

په افغانستان کې هله سوله...

احمد رشید لیکي، افغان ولسمشر حامد کرزي له طالبانو سره د خبرواترو لپاره د سولې عالي شورا جوړه کړې. خو ده ته پکار ده چې پر دې خبره په ټول هیواد کې نور جوړ جاړی هم رامنځ ته کړي.

احمد رشید په خپله لیکنه کې له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره ځینې وړاندیزونه کړي.لکه؛

لومړی: ناټو، افغان حکومت او پاکستان دې بندي طالبان خوشي کړي، د دوی امنیت دې خوندي کړي او یا دې هم هغوی پرېږدي چې په یوه دربمګړي هیواد کې پناه واخلي.ناټو دې مرکچي طالبان پرېږدي چې ازادانه تګ راتګ وکولای شي او په یو دریم دوست هیواد کې ځان ته دفتر پرانیزي.

دوهم: په دې خبرواترو کې دې د ملګروملتونو او اروپایي اتحادیې د هیوادونو له لارې ایران هم ورګډ کړای شي چې په خپل هیواد کې د افغان طالبانو پټ مرکزونه له منځه یوسي.هغوی دې پرېږدي چې خپل هیواد ته لاړ شي او یا هم په دریم هیواد کې پناه واخلي.خو په دې خبرو کې دې د القاعده شبکې او د هغوی ملګري شامل نه وي او نه دې بخښل کېږي.

دریم: طالبان دې له القاعدې سره خپله لاره په ډاګه جلا کړي او د افغانستان حکومت د مامورینو، مرستندویانو او نورو خیریه موسسو د کارکوونکو له وژنو لاس واخلي، ځانمرګي بمي بریدونه دې پای ته ورسوي، د ښوونځیو او حکومتي ودانیو سوځول او ورانول دې ودروي.

څلورم: د ملګروملتونو امنیت شورا دې په یوه نوي پرېکړه لیک کې د افغانستان له حکومت او طالبانو د جګړې د پای ته رسولو او د خبرو د پیلولو غوښتنه وکړي او ملګري ملتونه دې په افغانستان کې خپل ځانګړي استازي ته دا واک ورکړي چې د افغانستان له ګاونډیو هیوادنو سره خبرې پیل کړي چې په دغه هیواد کې خپله تربګنې او سیالې پای ته ورسوي او له هغه طالب مشرانو سره د خبرو اترو لپاره لاره هواره کړي چې له القاعدې خپل ځان بېلوي او دغه طالبان دې د م.م. د ترهګری له تور لیست څخه وایستل شي.

پنځم: د هند استخباراتي اداري دې په افغانستان کې خپل حضور په ډاګه کړي او خپله سیالي دې په دغه هیواد کې ختمه کړي.په افغانستان کې دې په دولت جوړونه ، سوداګری او بیارغونه کې سیالي وکړي.او ژمنه دې وکړي چې د یوه بل د کمزورولو لپاره به د افغانستان خاوره نه کاروي او په دغه هیواد کې دې له خپل پوځي شتوالي څخه لاس واخلي

شپږم: افغان حکومت دې ژمنه وکړي چې د یوې سیاسي روغې په صورت کې به په خپله خاوره کې مېشت بلوڅ بېلتونپالي مشران له یو سیاسي جوړجاړي پراساس په خوندي توګه بلوچستان ته ستانه کړي خو له پاکستاني پوځ، نړیوالي ټولنې لکه سره صلیب څخه دې د هغوی د خوندیتوب او حفاظت ضمانت واخیستل شي او پاکستان دې ټولو بلوڅ بېلتون پالو ته عمومي عفوه او ښنه اعلان کړي.د پاکستان پوځ او ای ایس ای دې ټول نیول شوي بلوڅ بېلتونپالي خوشي کړي چې پکې په سلګونه ترې تم او ورک دي.

اووم: پاکستان دې له شپږو تر دولس میاشتو پورې د هغو ټولو افغان طالب مشرانو او د هغوی کورنیو لپاره چې غواړي خپل وطن ته ستني شي یا هم په پاکستان او بل دریم هیواد کې اوسېدل غواړي، د وروستي نېټې یو مهالوېش وټاکي .ملګري ملتونه دې په دې برخه کې ورسره مرسته وکړي.او له دې سره جوخت دې پاکستان په شمالي وزیرستان کې د القاعدې شبکې او هغه افغان او پاکستاني طالبانو پر وړاندې پوځي یرغل پیل کړي چې د سولې بهیر ګډوډول غواړي.

اتم: افغان حکومت دې په خپل هیواد کې دننه له طالبانو سره تر رسمي خبرو اترو مخکې د ټولو توکمونو، مدني ټولنو او قبایلو ترمنځ یو پراخ ملي جوړجاړی رامنځ ته کړي.خبرې اترې دې د امریکا او طالبانو ترمنځ هم پیل شي.او امریکا دې پر دې خبره هم سلا شي چې د بې پیلوټو الوتکو په بریدونو او د نورو وسلو په وسیله د طالب مشرانو په وژنه کې کموالی راوړي.

پوتین پر لیبیا د امریکا...

بهرنۍ پالیسي د نورو هیوادنو په کورنیو چارو کې مداخلې ته تمایل لري او په لیبیا کې روانې پېښې دا ښیي، چې روسیه باید خپل قوي دفاعي توان ولري.

د نوي کابل په مناسبت درې ...

شوېو بندیانو کې شاوخوا اووه سووه یې له وسله والو مخالفینو سره د اړیکو په تور نیول شوي وو، خو له دوی سره د شتو تورونو د سپیناوي لپاره موثق اسناد نه وو موجود.

ښاغلي غالب په خپلو خبرو کې زیاته کړه، چې په روان کال کې له یوسل او شلو ډېر کسان په اعدام محکوم شوي، چې د اتو کسانو سزا یې د ولسمشر کرزي په فرمان په عمر قید بدل شوی.

د عدلیې وزیر په ۱۳۹۰ کال کې د دغه وزارت په چوکاټ کې د تعقیب او مراقیب اداري د رامنځ ته کیدو خبر ورکړ او ویې ویل، چې د دغې اداري غړي به د ولایتونو محبسونه له نژدې ګوري او د عدلیې د وزارت د کارکونکو کارونه به څېړي.

ښاغلي غالب زیاته کړه، چې په ۱۳۹۰ لمریز کال کې به د څرخي پله په زندان کې د عامې روغتیا وزارت په همکاری یو سل بستریزه روغتون او د نړیوال بانک په مرسته د ټولو ولایتونو په زندانونو کې روغتیایې مرکزونه جوړ کړي.

د عدلیې وزارت له خوا دا څرګندونې په داسې حال کې کېږي، چې اوس اوس یو شمېر بندیانو د څرخي پله په زندان کې له ناوړه حالت سر ټکوه او له چارواکو یې په دې برخه کې د پاملرنې غوښتنه کوله.

دغه زندان تر دې مخکې هم د نا سمو شرایطو له کبله څو څو واري د بندیانو د پاڅون شاهد و، چې په کې د زندان له ساتونکو سره په نښته کې ځینې بندیان وژل شوي هم دي.

که جنګ دوام ولري...

دسولې له پروسې سره تړلې موضوع ده.)

خلیلي وسله والو طالبانو ته بلنه ورکړه چې له افغان دولت سره یوځای شي، او خپلې غوښتنې دسیاسي هلوځلو په ترځ کې ترلاسه کړي، څو په هېواد کې مېشت ټول قومونه په دولت کې ځانونه ووېني. خو وسله والو طالبانو له پخوا راهیسې په هېواد کې د بهرنیو ځواکونو په شتون په صورت کې هر راز خبرې اترې رد کړې دي. پرون هم طالبانو په یوه اعلامیه کې ویلي وو، تر څو چې په افغانستان کې یو بهرنی پوځي هم موجود وي دوی به له هیچا سره خبرې ونه کړي.

له بلې خوا تېره ورځ عبدالخالق ملکزي، چې ځان داتلسو زرو طالبانو استازی بولي، په کابل کې دیوې خبري غونډې پرمهال وویل چې دی اوسمهال له افغان حکومت سره په خبرو بوخت دی او غواړي چې له دولت سره سوله وکړي. خو دوسله والو طالبانو ویاند قاري یوسف احمدي له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې عبدالخالق ملکزی، چې ادعا کوي دطالبانو په استازیتوب له دولت سره خبرې کوي، دطالبانو استازی نه دی.

قاري یوسف احمدي د عبدالخالق ملکزي څرګندونې بې اساسه او پوچې وبللې او هغه یې د تبلیغاتو د یوې ناکامې هڅې په توګه یادې کړې. دراپوروڼو له مخې په مزارشریف او دافغانستان په نورو سیمو کې دنوي کال دمراسمو لپاره سخت امنیتي تدابیر نیول شوي دي. مزارشریف به یو له هغو ښارونو څخه وي چې سبا به ولسمشر کرزی دهغه دامنیتي مسوولیتونو دانتقال پروسه اعلان کړي. نن هم ددې ښار ټول امنیتي تدابیر د افغان خواکونو په لاس کې وو.

یک توطئه ۲۰ الی ۳۰ سالهٔ ...

این نیروها بر اساس دفاع از منافع عمومی کشور های عضو شورای همکاری تشکیل شده است." پیش از این منابع مطلع در بحرین اعلام کرده بودند، سفیر ایران در منامه از این کشور اخراج شده است. بحرین پیش از این سفیر خود در تهران را برای مشوره در مورد نقش تهران در بحران این کشور به منامه فراخوانده بود.

بحرین پس از اخراج سفیر ایران در این کشور تاکید کرده است که این اقدام بخاطر مداخله در امور داخلی بحرین و انجام ماموریت های استخباراتی تحت پوشش دیپلوماتیک صورت گرفته است. برخی نمایندگان پارلمان بحرین تاکید کرده اند که سفارت ایران برای خبرنگاران و نویسنده گان بحرینی پول میداده و حتی جاسوسان این کشور در شفاخانه سلیمانیه یک آلهٔ استخباراتی به قیمت ۱۶۰ هزار دالر را نصب کرده بودند.

بر اساس این اظهارات دستگاه ضبط شده برای انتقال معلومات استعمال می شد. در همین حال سخنگوی وزارت خارجه ایران اعلام کرده است این کشور از سفارت بحرین در تهران خواسته است که همه دیپلومات های این کشور خاک ایران را ترک کنند.

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

لاس انجلس ټایمز:

د امریکا چاپ لاس انجلس ټایمز ورځپاڼې په خپله یوه وروستی ګڼه کې د افغانستان پر جګړې د پاکستاني او امریکایي چارواکو د وروستیو پلان شویو خبرو په باب تبصره کړې، چې پاکستان په دغو خبرو کې برخه وانخیستله.

لاس انجلس ټایمز لیکي، پاکستان د جمعې په ورځ د افغانستان پر جګړې له امریکا سره له خبرو تر شا شوه، دا اقدام د افغانستان پولې ته څېرمه پر یوه ملکي جرګه د امریکا د بې پیلوټه الوتکې د حملې له کبله د اسلام اباد خواشینې څرګندوي.

د پنج شنبې په ورځ پر شمالي وزیرستان د امریکا د برید له کبله پاکستان په غوسه دی. دا هغه سیمه ده، چې د ورځپاڼې په باور د القاعده په ګډون د پاکستاني طالبانو، حقاني شبکې او نورو سخت دریځو ډلو مهم مرکزونه په کې دي.

ورځپاڼه وایي، دا افغان طالبانو ته هم مهمه سیمه ده، چې له همدې ځایه په افغانستان کې پر ناټو او امریکایي پوځیانو خپل بریدونه تنظیموي.

امریکایي چارواکي وایي، یو سرای یې په نښه کړی، چې وسلوالو په کې غونډه درلوده، خو پاکستاني چارواکي ټینګار کوي، چې په ۴۵ وژل شویو کسانو کې قومي مشران او نور ملکیان شامل دي، چې د یوه کان د ملکیت پر سر یې د ولاړې شوې لانجې په باب خبرې کولې.

د شمالي وزیرستان تر دې برید وروسته پاکستان په هغه غونډه کې ګډون ونه کړ، چې ټاکل شوې وه افغان او امریکایي چارواکي په کې د افغانستان د جګړې په باب خبرې وکړي.

ګارډین:

د بریتانیا چاپ ګارډین ورځپاڼې په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد د پوځي حضور په باب د یوه چاپ شوي کتاب په باب تبصره کړې، چې نوم یې دی: روسان په افغانستان کې.

په مقاله کې دغه کتاب ډېر مهم بلل شوی، چې په افغانستان کې دننه او بهر هر سیاستوال، جنرال او ډیپلومات یې باید وګوري او د افغانستان په مساله ځان ښه خبر کړي.

ګارډین زیاتوي، دا هغه کتاب دی چې موږ باید لس کاله مخکې درلودلای او تر بل هر وخت نن دې کوچنې شهکار ته سخته زیاته اړتیا لرو.

په کتاب کې د شوروي د یرغل په باب ځینې وقایع رااخیستل شوي او د دې یرغل پر مهال شوې تېروتنې په ګوته شوې دي. په مقاله کې ویل شوي، سرو پوځونو د خپلو تېروتنو له کبله زیاتې هغه سیمې له لاسه ورکړې، چې له وسلوالو یې د ساتلو او پاکولو وس درلود.

د مقالې په دوام راغلي، وحشیګریو او اداري فساد د شوروي د جګړې ماشین له کاره واچاوه، چې مخالفانو له وړاندې ورسره مقابله کړې وه.

د ورځپاڼې په باور په دې کتاب کې په افغانستان کې د ظرفیتونو د کموالي او نورو مسایلو په باب د عبرت درسونه هم شته، افغانانو به د خپل هېواد د حکومتداری چارې په خپل لاس واخلي او په دې برخه کې بهرنیو ملګرو دوی ته هیلې ور کړې دي.